# ځنګلونه

## دویمه برخه

جنبش: شما شنونده برنامه‌های مسلسل در مورد ارزش‌های مادی و معنوی افغانستان با رئیس جمهور محمد اشرف غنی هستید.

با سلام همه تان را به این برنامه نوبتی با من داود جنبش خیر مقدم می گویم.

نننۍ خپرونه کې بیا هم د ځنګلونو او ورشوګانو بحث غځوو او ایله یو څو نور اړخونه یې راسپړلی شوو، ځکه چې د ټولو ښېګڼو سپړنه یې د ځنګله د ونو هومره ګُورې خپرونې غواړي چې له بده‌مرغه دغه امکان به اوس نه وي.

ډاکټر صاحب غني تاسې ته بیا هرکلی وایم، بلې خپرونې ته ښه راغلئ، حوصله مو پراخه.

دکتور غني: بسم‌الله الرحمن الرحیم. ډېره مننه له تاسې نه او زما ډېر تاوده سلامونه او احترامات خویندو او ورونو ته هر چېرته چې دي.

جنبش: ژوندي اوسئ، د هغوی په استازیتوب علیکم‌سلام.

بې له ځنډه به لاړ شوو د خپرونې موضوع‌ګانو ته. تېره خپرونه کې مو د افغانستان د ځنګلونو پراختیا، ځینې خطرونه او زیانونه چې ور اوښتي دي او هغه سیمې چې زیانمنې شوې دي، هغه مو یو څه وڅېړل. اوس په دې باندې غږېږو چې دا زیانونه څنګه جبیره او جبران شي، لارې یې څه دي او څنګه؟

اوله پوښتنه مې د دې لپاره ده چې موږ خپل ځنګل وپېژنو. موږ معمولاً کله چې ځنګل یادوو استاده، فوراً لرګی او د ونې سیوری او د ځینو شاعرانو شعرونه ذهن ته راځي، خو یوازې داسې نه ده، موږ ځنګلونو کې داسې مېوې لرو چې نړیوال بازار لري. جلغوزي یې په دغه وروستیو کې ډېرې مشهورې شوې وې، نورې مېوې هم لرو.

دکتور غني: بلې، پِسته مو هم ډېره مشهوره ده. بادام مو مشهور دي. اینځر مو مشهور دي او [پر هغه سربېره] که دښتو ته مو وګورئ یوازې هېنګه (اېنجه) مو چې اول په طبیعي توګه په پیړیو زموږ کاکړو له هلمند او [نورو سیمو] ... ټولوله او سمنګان [یې] بله برخه ده. په کال کې له ۲۰۰ تر ۴۰۰ میلیونه ډالره صادرات یوازې د اېنجې دي. افغانستان مخکې له [شوروي] یرغل، د نړۍ له لس عمده صادرونکو هیوادونو و د وچې میوې. همدارنګه زموږ چهارمغز او نور مواد با ارزښته دي او نوم لري.

جنبش: د دغو مېوو يو شمېر ځنګلي دي او يو شمېر يې په سمه او هواره کې کېږي اما په ځنګلي دغو کې يې زه د خپلې سيمې د ميوو په حساب ګورګورې هم يادولی شم چې ډېرې خوندورې وې او موږ خپله هم ټولې کړې دي او يو رقم مېوه ده چې ځينو ته ښه نه برېښي، د ځېړۍ نه راځي او پرګي ورته وايي يا پيرګي په اور کې يې اچوي، ماته خو يې خپله خوند راکاوه.

فکر کوم چې دا ليست به نور هم اوږد وي. بياييد فعلاً در مورد اين صحبت کنيم که آيا تجربه موفق جهانی در بخش صدور محصولات مفيد جنگلی، از جمله ميوه‌ها، صرف نظر از چوب وجود دارد که سرمشق کشور ما قرار بگيرد؟

دکتور غنی: بلی خوشبختانه. اگر مسئله را محدود نکنيم تنها به صادرات، بلکه در قدم اول سر محافظت و احيای جنگلات بياييم. جرمنی قرن نوزده و ابتدای قرن بيست، بعد از جنگ دوم جهانی يکی از موفق ترين نظام های مديريت جنگلات داشت. کوريای جنوبی با الهام از جرمنی توانست در ظرف چهل سال نه تنها جنگلات خود را احيا کند بلکه ساحه جنگلات خود را دو [برابر]سازد. در کوريا خاصتاً اين اهميت خاص دارد، از خاطر يکه مقدار بارش سالانه از چهارصد ملی متر در سال زيادتر است. کوه‌های دور پايتخت سول مطلق سياه بودند، اما زن و مردها از طناب‌ها خود را آويزان کردند و خاک را با سطل ها انتقال دادند.

در امريکای لاتين کشور کوستاريکا توانسته يکی از موفق ترين شيوه‌های جلب سرمايه بين المللی را برای احيای جنگلات از طرف کمپنی های مختلف [وغيره] ايجاد کند.

از کشورهايی که در اين اواخر در چند دهه فعلی اقدامات کرده اند، اقدام حکومت خيبرپښتونخوا که در حدود يک ميلياد درخت غرس کردند، تا ٪۸۵ فيصد آن نتيجه داده، يکی از اقدامات بسيار مهم در منطقه است.

در هندوستان يکی از علمای جاپانی به نام مياواکی (Akira Miyawaki) حالا عمرش اگر هنوز هم حيات داشته باشد از ۹۰ بالا است. اهميت [کارش] در اين است که آقای مياواکی ثابت کرد که در پنج سال يک جنگل از بته گرفته تا درختهای ۲۰ متره به صورت اساسی ايجاد شده می تواند و وقتيکه ايجاد شود خودش بعد از ۵ سال به اندازه ای رطوبت توليد می کند که قابل تداوم و پايدار باشد. اين در هندوستان به مقياس بسيار بزرگ از طرف يک نهادی که به نام اففارست (Afforestt) ياد ميشود روی دست گرفته [شده است].

از نگاه تاريخی احيای جنگلات امريکا بعد از اين که ساحه گندم انتقال کرد از شمال شرق امريکا به وسط امريکا و غرب امريکا، يک مثال بسيار زنده است و آنجا معلومدار مقدار باران قابل ملاحظه است و همچنين جنگلات کانادا قابل ذکر است که حفاظت از آن مثالهای بسيار خوب بوده می تواند.

جنبش: فکر می کنید که این تجارب، مخصوصاً از آن دانشمند جاپانی که شما گفتید منحصر به مناطق مخصوص است یا می تواند تعمیم شود در کشورهایی مثل افغانستان؟

دکتور غنی: خوشبختانه هم تجربه کوریای جنوبی و هم طریقه آقای میاواکی و داکتر ناکامورای مرحوم تعمیم شده می تواند. یکی از بزرگترین علمای کوریای جنوبی که متخصص جنگلات است به نام آقای داکتر کیم تشریف آورده بودند و نکته کلیدی آنها، [بعد از آنکه] کابل و چند ولایت دیگر را دیدند، این بود که گفتند: شما یک وجه خوب دارید، اکثر مقدار باران تان به اندازه ای نیست که خاک کوه‌ها را به صورت اساسی از بین برده باشد، ضعیف شده اما قابل احیا است. و اگر این دیدگاه را با طریقه ییکه آقای میاواکی مطرح کرد در هندوستان در ولایات بسیار مختلف هندوستان – که ویدیوهایش در تمام انترنت و اینها وجود دارد- یکجا کنیم [نتیجه می دهد]. و خوبی اش این است که از سطوح پایین تا سطوح بالا ترتیب شده می تواند.

نکته دیگرش تجربه بسیار موفقانه داکتر ناکامورا است. من نه تنها بارها همرایش دیدم و ملاقات کردم، بلکه از حکومت جاپان تقاضای خاص کردم – کمک زیادی که به داکتر ناکامورا می آمد از منابع فردی جاپان بود، مگر حکومت جاپان علاقه اش را جلب کردیم. در آخر داکتر ناکامورا نه تنها در کنر و لغمان کار می کرد بلکه علاقه‌مند شده بود که در بادغیس هم اقدامات کند.

جنبش: د دې لپاره چې اورېدونکي...، ښه ناکامورا پېژني په افغانستان کې د کاکا مراد په نامه مشهور و، د افغانستان تابعيت يې ترلاسه کړ، واقعاً يې کارونه د ډېرې ستاينې دي چې په تاريخ کې يې نوم پاتې شي. کولای شئ په لنډېز يې ووايئ چې د ده طريقه په څه ولاړه وه؟ او ولې مهمه ده افغانستان ته؟

دکتور غنی: واقعاً ټول افغانان بايد دې سړي باندې وياړ وکړي. اول تاسو ته وايم چې دی ولی اوبو او ځنګلو ته متوجه شو؟ دی ډاکټر و، پېښور کې يې کلينيک خلاص کړ، د مقدس جهاد په شپو کې، خپله به ده په خپلو اوږو باندې مريضان کوټو ته وړل. دا ټول مريضان يې [چې] وليدل، [نو په] اصلي ټکي پوه شو. ويل يې دوی خو سمه ډوډۍ نه ده خوړلې. هلته [افغانستان کې] وچکالي وه، نو دی چې لاړ هلته[جاپان ته]، له ډاکټرۍ واوښت [او د] اوبو لوی متخصص شو. په اوبو باندې يې څه وکړل؟ د کنړ اوبه توندې دي ....

پښتو يې بې‌حده ښه وه، نه پوهېږم تاسې ورسره غږېدلي وئ که نه؟

جنبش: له بده مرغه نه وم غږېدلی.

دکتور غني: ډاکټر ناکامورا مطلقه کونړۍ او ننګرهارۍ پښتو باندې غږېده، لهجه يې نه درلوده.

جنبش: همدې لپاره خلک يې کاکا بولي.

دکتور غني: خلکو ټولو ورته کاکا ويلې. نو [د] کونړ اوبو ته يې ويل [چې] ليونۍ اوبه دي. ويل يې ليونۍ اوبه دي، ليونی [ورته] په کار و.

جنبش: او ليونی کار يې هم کاوه، پخپله يې ډېرې وړلې.

دکتور غني: ليونۍ مينې سره يې کار کاوه. زما او د ده چې دا ګډه ولګېده، دواړو ويل [افغانستان سره] موږ ليونۍ مينه لرو.

[د اوبو د مديريت] طريقه [يې] جاپان کې له څلور سوه کاله دمخه [نسخو له مخې] پيدا کړله. پس له هغه يې دا سلسله وليدله چې له يوې خوا د اوبو ستونزه ده او له بلې خوا سېلابونه راځي. خپل کتاب کې يې ډېر په واضح توګه ليکلي چې سېلاب راغلی و او د ده کانالونه لا نه وو خلاص شوي. پخپله په تراکتور کې کېناست او د سېلاب مخه يې وګرځوله. نو [کومې] ونې چې ده کېنولې، برخلاف د نورو [خلکو] چې ونې يې له نورو ځايونو راوړلې، ده هغه طبيعي ونې چې په کونړ او ګمبيري دښته کې وې، هغه يې راوړلې. د تيږو د استعمال يوه طريقه ده منځ ته راوړله چې څنګه سواحل خوندي کړي. دا تيږې په يوه جال کې اچول کېږي، د اوسپنې په يوه جال کې. دا طريقه اول په ايټاليا کې منځ ته راغلې وه، خو ده ډېر سخت انکشاف ورکړ او د دې له پاره چې دا تيږې ټينګې شي، د تيږو [له پاسه] يې ونې کېنولې. د ونو ريښو هم تيږې ټينګې کړې، هم چې سېلاب راځي د سېلابونو مخه يې ونيوله. نو دغه طريقه ده [ايجاد کړه]. ښه‌والی يې دا دی چې دا [کار] يې ټول په افغانانو وکړ. د ده د جاپاني تخنيکي ملګرو تعداد ډېر کم و، دوی يوازې وسيله وو. يو انستيتوت يې له افغانانو سره جوړ کړ چې هغوی دا پوهه زده کړې ده. مصارف يې د هر بل رقم کانال چې جوړ شوی يا هرې لويې پروژې، پرتله بې‌حده کم دي.

جنبش: زه ډاډه يم چې د ده شاګردان به وي او دغه اصول به يې زده کړي وي. چې اورېدونکو ته يې آسانه کړو: ده له سيمه‌ييزو موادو نه د کانکرېټ او نورو پر ځای له سيمه‌ييزو ډبرو او دې نه کار اخيسته او ونې يې پر سر ورته کېنولې چې هم زرغونتيا رامنځته کېده ،ځنګلي سيمه پراخېده او هم د سېلابونو او سيند د تخريب مخه نيول کېده.

دکتور غني: او څنګ د دې کې، ده کانالونه جوړ کړل چې اوبه اول پستې [ورو] شي او له هغې تونده [ولوېږي]. دا يوه بله خاصه طريقه ده چې د شګو يو کوچني بند غوندې – جزيره يې ورته جوړوله او پس له هغه نه بيا بندونه وو. بندونه په کانالونو راغلل او کانالونه، اوږده کانالونه دي، ځينې يې له ۲۰ کيلومترو نه اوږده دي. نو صحرا واقعاً شنه شوله. هغه ګمبيری چې د مرګ ځای و او خلک به جل په کې وهل ځکه چې اوبه به يې نه پيدا کولې، اوس له ښايسته

ځایونو د افغانستان دی. نو دا دربښیي چې په عملي توګه امکان د دې شته چې صحرا [بدله کړئ]، د صحرا کېدو مخه ونیسئ او افغانستان بېرته زرغون کړئ.

جنبش: شما قبلاً از یک دانشمندی یاد کردید که گفته اند احیای جنگلات در مدت بسیار کوتاه مثلاً در حدود پنج سال ممکن است، آیا درختهایی که در این سیستم میآید که زود جنگلزار ایجاد میشود، قابلیت نمو در افغانستان را دارد؟ این تحقیقات صورت گرفته [است]؟

دکتور غني: دو بخش دارد. یکی درختهایی که به صورت طبیعی وجود دارند. ما می فهمیم که با استفاده از شیوه داکتر ناکامورا اینها را چطور وسعت [و] تعمیم بدهیم. دوم، انتخاب کوریای جنوبی بسیار دلچسب بود، چون اینها با فقر شدید مواجه بودند. این کوریای متحرک قوت جهانی اقتصادی امروز نبود، شرایط بسیار بد داشتند. در سالهای ۱۹۶۰م که توسعه دوامدار خود را شروع کردند، [آنگاه] تصمیم گرفتند که بالای دو نوع درخت سرمایه‌گذاری کنند. درختهایی که در ۵ سال به ثمر میرسند و درختهایی که در ۱۰ سال و تمرکز شان سر همین بود. چون ما شرایط مختلف اقلیمی داریم و خوشبختانه نقاط مختلف [وجود دارد] مخصوصاً آن نقاطی که مونسون هندوستان به آن میرسد و هوای مرطوب دارد، می توانیم سر انواع مختلف [درخت ها] سرمایه‌گذاری کنیم و همین نوع [پیشرفت] را ببینیم.

نکته بعدی اش این که ما بعض درختهای وحشی داریم مثل زیتون وحشی در خوست. زیتون خوشبختانه در خیبر پښتونخوا به سطح بزرگ سرش سرمایه‌گذاری شده است بخاطری که هدف در آنجا این بود که از واردات [روغن] زیتون که یکی از اقلام عمده وارداتی پاکستان است، جلوگیری شود و اینها بتوانند به طرف خودکفایی بروند. اما تمام ابعاد این باز هم به خاک شناسی منظم تعلق دارد و هم به شناخت درخت و خاصتاً آشنایی مردم و سرمایه‌گذاری برای این که مردم به صورت واقعی بفهمند که این درختها را چطور حفظ کنند، محافظت کنند و باز در نفعش مشترکاً سهم داشته باشند.

جنبش: نو په دې حساب کله چې د ځنګل د بیا احیا کېدو طرحه جوړېږي راتلونکې اقتصادي ارزښت، اقلیمي ارزښت او دا ټول یې باید په پام کې ونیول شي. موږ داسې یوه سروې لرو چې مثلاً په افغانستان کې تراوسه په دې ځنګلونو کې کومې ونې دي؟ ما درې ځلور نومونه اورېدلي دي: څېړی ده، نښتر دی،ښوون دی ځنګلي، کېدای شي ځینو ځایونو کې بادام وي. عمومي لیست یې شته؟ موږ دا معلومات لرو؟

دکتور غني: بهترین لیست د افغان پوهانو او جرمني پوهانو [له خوا] په دوو ټوکو کې خپور شوی او منظم موجود دی. اما له لیست نه مخکې، ما چې تاسې ته وویل، ۱۱ برخې طبقه بندي موجوده ده، چې پرې پوهیدای شو. دا ټول باید په یوه انسجام [کې] راشي. خبره په لیستونو کې نه ده، خبره په دې کې ده چې یو لوی هدف لکه څنګه چې ما وویل،

د سل میلیون [ونو له کینولو] یې پیلوو یا یو میلیارد خوا ته ځو، خو یو هدف باید وټاکو، یو واضح لید [باید] ولرو او د هغه لپاره ملا وتړو.

دویمه دا ده چې مختلفو شرایطو ته باید پام وکړو. لومړي قدم کې څنګه هغه ځنګلونه چې زرهاوو کلونو نه زموږ ملي میراث دی، د هغه ساتنه وشي، د هغه وده وشي او مخنیوی وشي چې له منځه لاړ نه شي. بل، د دې په څنګ کې څنګه ټول [د] طبیعت نظام ته له ۴۵۰۰ مترو نه تر ۳۰۰ پورې چې کمترین دی، دا په یو ترتیب کې راوړو چې ټول سره خوندي شي.

بله خبره یې دا ده چې بیا هم موږ او تاسې په دې وغږېږو چې څنګه سیل بُر اوبه موږ ذخیره کولای شوو او په هغو لومړیو کلونو کې چې د ځنګلونو بیارغونه اوبو باندې ولاړه ده، څنګه به له دې نه [اوبه] ورځي؟ او چېرې چې باران دی په طبیعي توګه، هغو برخو کې به څنګه [کوو؟].

نو یوه منسجمه برنامه په کار ده چې ډېر وخت نه غواړي، اما اصولي دریځ باید موجود وي. زموږ جنجال جناب جنبش صاحب دا دی، چې اکثرو تخنیکي موضوعاتو کې زموږ پوهانو مختلفو ملکونو کې درسونه ویلي دي، خو په یوه منظمه توګه د دوی فکرونه راټول نه دي. نو دا تسهیل غواړي، باید دا ټول سره کېنوئ، یو بل باید دوی مُلا کړي او یو بل ته قناعت ورکړي. ځکه له بده مرغه که سړي ابتدایي تحصیلات کړي وي - دا ټول په ځوانۍ کې موږ تېر کړي دي، غرور د ځوانۍ ډېر دی- سړی بل چاته غوږ نه نیسي. د غوږ نیولو طریقه دا ده چې ټول باید راشوو چې یو بل سره خپله پوهه یو ځای کړو، ځکه اکثرو نورو ملکونو کې چې درس وایئ، درس د هغوی د شرایطو لپاره دی، نه ستاسو د شرایطو لپاره. دا واقعاً یو ملي بنسټ غواړي او یو ملي لید غواړي چې انشاءالله تعالی عملي کېدای شي.

جنبش: و در عین حال بدون شک تحقیقات منظم و دقیق میخواهد که نیازهای احیای مجدد جنګلات ما چیست [و] کدام درختها است چون یکی از جنګلشناسها ییکه همرای شان صحبت داشتم ګفتند که باید دقت صورت بګیرد، هر نوع درخت نباید به افغانستان وارد شود، چون تعدادی از درختها - آنها اصطلاح اګریسیو Aggressive را استفاده کردند و ګفتند که تجاوزګر استند از این خاطر باید یک مطالعه دقیق صورت بګیرد [و] بعد از آن اقدام به احیای جنګلات شود.

دکتور غني: مطلق، مثال بید روسی را من برای تان ګفتم، از همین درختهای تجاوزګر است. یکباره ګی چند نفر این را وارد کرده و در همه جای کابل در نقاط مختلف [غرس کردند].

جنبش: در ارګ هم بود فکر کنم.

دکتور غنی: در ارگ هم بود و در ارگ هم کلُش شکست. نکته کلیدی اش این است که زیادترین آب را [جذب می کند]. ابتدای کار باید از درختهایی شود که در محیط سابقه صدها سال یا هزارها سال را دارد. هر نوع نو درخت که میآید یا بته بیکه میآید باید ابعادش سنجیده شده باشد.

نکته دیگرش این است که با خاک و آب و شرایط باید ارتباط داشته باشد. طریقه ها، مثلی که طریقه آقای میاواکی یا طریقه داکتر ناکامورا است، این طرق است، اما تصمیم گیری [معیار های واضح دارد] و بدبختانه بعض اوقات همکاران ما تصامیمی گرفتند که [آشکارا] اتکا بر این [اصول] نداشتند و هر چیزی که مورد توجه یک فرد تخنیکی بوده به آن توجه کرده بدون این که نتایج اقتصادی و ابعاد اجتماعی و محیط زیستی آن را به صورت اساسی [در نظر گرفته باشند]. همه اینها ضرورت به یک دیدگاه واضح و اطمینان از نگاه تخنیکی و از نگاه عملی دارد.

جنبش: په دې برخه کې غواړم ستاسې یوه تجربه واورم. داسې اقدام چې یوه سیمه مکمله زرغونه شوې وي ستاسې د تصدۍ وخت کې، راته ویلی شئ؟

دکتور غنی: لومړۍ خبره د جلغوزو ده، څکه زموږ ټولې جلغوزې قاچاق کېدل. ما د لویې پکتیا ولسونو سره چې ولیدل، زما طریقه دا وه – مخکې د کوویډ (۱۹) له وبا نه مې تقریباً ۵۰۰۰ وطنوالو سره په میاشت کې کتل؛ د لویې پکتیا خلک راغلل خاصتاً د ۱۴ ولسوالیو چې هلته درانه ځدران ورونه او نور اقوام وو، دوی مانه دې ته توجه وغوښتله. موږ په ډېره لږه موده کې په دې وتوانېدو چې دوی ته د صادراتو لوی بازار پیدا کړو او عین زمان کې په دې باندې پانگونه وکړو چې څنگه [دجلغوزو ونو د ډېرولو له پاره د نویو نیالگیو] قوریې جوړې کړو. خصوصي سکتور [له خوا] نه لومړۍ فابریکه په گردېز کې جوړه شوه. اول قدم مو دا و چې چین ته هم ورسېدل، دویم هدف مو دا و چې څنگه جرمني ته چې لوی ترین واردوونکی د جلغوزو دی [ورسېږي]. دا یې مثال و.

په همدې رقم موږ اخته وو یوه واضح لید سره. دا لید چې نن ما تاسې سره شریک کړی، دا اول زما د نړیوال بانک له تجربې پیدا شوی او پس له هغې چې ما د ټول افغانستان شرایط وکتل د ورشو، د ځنگلو د ټولو د کلیو د مالدارۍ او کوچیاني ژوند د ارتباط سلسله مو پیدا کړله چې دا ټول په یوه تار کې سره ونښلوو او د ارزښت زنځیر ورنه جوړ کړو. په همدې حساب و چې د ملي پیوستون پروگرام یوازې په کلیو کې پاتې نه شو، کوچیانو ته هم وغځول شو چې مخکې له هغه ورته چا توجه نه وه کړې.

بله برخه د ملي پارکونو وه چې ډېره برخه د ملي پارکونو، د واخان کورېدور، د حشمت خان قول چې د دې ترتیبات مخکې نیول شوي وو په ۲۰۱۴-۲۰۱۵ کې، د بامیان پارک، د نورستان ځنگل، آب ایستاده د غزني، د درقد ملي پارک په تخار کې، د امام صاحب په کندز کې او نور، پکتیا کې د ځاځي میدان او د واما ملي پارک په نورستان کې... دا ټول په نظر کې وو.

موږ ټول په دې باندې اخته وو، اما زما اصلي موخه دا وه چې موږ یو هدف وټاکو او ټولې دولتي ادارې په یوه چوکاټ کې راوړو. ستونزه دا وه چې هم انجیوګانې [او] هم [د] ملګرو ملتونو دفترونه [په خپل سر شوي وو]، هېڅ چا ته مسوول نه وو، دوی مو یو چوکاټ کې راوستل، اما له ټولو نه مهمه خبره دا وه چې ولس سره مو کار کاوه چې ولس دا په خپلې ګټې وګڼي نه په خپل تاوان. د دې لپاره چې د عرف او قانون ترکیب باید منځ ته راشي چې وکړای شوو خلک په دې قانع کړو چې لومړی فعلی جنګلات وساتي او پس له هغه نه یې [ډېرولو] ته په اساسي توګه راشي.

همدغه رقم د ننګرهار کانال چې عمده باغونو ته یې په کلونو توجه نه وه شوې موږ سر تر پایه پاک کړل.

د کووېډ په دوران کې د کابل په شاوخوا کې موږ بېرته د ځنګلونو د بیا رغونې ترتیبات په وسیع توګه د ملي شرکت له لارې نه عملي کړل.

بله [هڅه] مو دا وه چې هر چېرې چې بندونه جوړېږي او نوې ویالې کنېل کېږي په څنګ کې یې باید منسجم اقدامات وي چې ونې کېنول شي او ځنګلونه ډېر شي.

جنبش: حتماً به په دغو طرحو کې د کابل د غرونو د زرغونېدو هم وه، همیشه له کوچنیوالي نه مې د کونړ له غرونو سره به مې مقایسه کول دا به راته سپېره معلومېدل. او دغه تلوسه مې هغه وخت چې کتمندو مې په ۲۰۱۵ کال کې ولیده چې زموږ غوندې طبیعت لري نیپال مګر پلازمېنه یا پایتخت یې دغسې زرغون دی چې د سړي ورته هوس راځي او حسد راځي. دا ځل چې لاړم کابل ته په دغو څلورو کلو کې یعنې وروستي کتنه مې مخکې په ۲۰۱۹ کې وه، یو بدلون د شېردروازې غره په سر کې هغه ځای کې چې د افغانستان نوم لیکل شوی دی، د بالاحصار نه لر را دې خوا چې ورته وګورئ، ونې معلومېږي. دغه د کابل د زرغونولو طرحه ستاسې په وخت کې شروع شوې وه، که فکر کوئ دا به وروسته شوې وي؟

دکتور غني: نه، مخکې شروع شوې وه. په واقعیت کې اوله برخه یې د کرزي صاحب دوران کې شروع شوې وه، موږ د کووېډ دوران کې دې ته پراختیا ورکړله، ټول شاوخوا د شېردروازې د غره، مګر لویه طرحه مو معلومدار د شاتوت بند طرحه وه چې له هندوستان نه مو پیسې پیدا کړې وې. د شاتوت د بند په جوړېدو کې، هلته چې د لوګر سیند د میدان وردګ سیند او د پغمان سیند سره یو بل سره ګډېږي، دې ساحې کې موږ د ۱۰ کیلومتره مربع ملي پارک ترتیبات نیولي وو.

له بلې خوا مو هغه بله طرحه چې پاتې ده [دا وه چې] یو سرک مو د شهدای صالحین نه د شېردروازې په سر ایسته [تر] بابر باغ پورې چې ټول وطنوال وکړی شي [پاس شېر دروازې غره ته] ورشي. هغه ځینې [ونې] مو چې کتلي چې شېردروازه باندې کېنول شوي دي، دا په دې دوران کې وشول.

جنبش: او دغه ښکلا ښېخي له ډېر لرې ځای نه معلومېږي، زړه خوشحالوي. زه هیله‌من یم چې یو وخت د افغانستان غرونه هم لکه د کتمندو یا نورو پلازمېنو غونډې زرغون شي.

خوب، در همین سلسله من یکی از برنامه های تلویزیونی را در ولسوالی خُلم ولایت بلخ در باغ جهان‌نما اجرا می کردم و یک متنفذ بدخشی را در آنجا مهمان داشتیم. او گفت که ما یک نوع انگور کوهی را در کوه‌های بدخشان رایج ساخته ایم، مردم هم از آن نفع میبرد و هم علاقمند تکثیر آن است که منطقه شان سرسبز شود. این گونه ابتکارات محلی به شما گزارش داده شده بود؟

دکتور غنی: ابتکارات محلی در نقاط مختلف افغانستان است و واقعاً سر این باید افتخار کنید، مگر وسیله عمده این، برنامه همبستگی ملی بود. چون این برنامه صلاحیت کامل را به شورای محلی داد و شوراهای زن ها بود، شوراهای مردها بود و شوراهای کوچی‌ها بود. ۳۳ فیصد شوراهای کوچی از زن های کوچی که همیشه در اقتصاد مملکت و در مدیریت مالداری نقش بسیار درخشان در طول تاریخ داشتند، ایجاد شد. هزارها مثال را آورده می توانید. اما نکته ییکه مهم است در این بخش، و من به آن توجه داشتم متاسفانه به موفقیت مواجه نشد ایجاد یک بانک جنتیک نباتات و جنگلات خود رو است. حداقل ۲۰ ٪ نباتات ما به یک حساب جنگلات ما منحصر به فرد به افغانستان است.

جنبش: که میتواند ارزش بسیار بلند اقتصادی [داشته باشد].

دکتور غنی: ارزش میلیاردها دالر در آینده داشته می باشد. میفهمید، یک شرکت امریکایی [تلاش] کرده بود که برنج بسمتی را به نام خود ثبت کند، چون از طرف هندوستان ثبت نشده بود و [آن] دعوه حقوقی سالها گرفت. [یعنی خطر ثبت درختان ما به نام دیگران وجود دارد که تنها با ایجاد بانک خاصیت های ارثی یا جنتیک نباتات جلو آن گرفته شده می تواند]. مشکلی [را] که زراعت عصری به وجود آورده [تکثیر درختان] از یک جنس است. مثال درخت بلوط را [در یکی از برنامه های قبلی] دادم [که یک ساحه جنگل بلوط در امریکا را مرض نباتی تباه کرد]. وقتیکه مرض میآید و اگر همه نباتات یا درختان از یک جنس باشد، تباهی بسیار وسیع بار می آورد. و راه و چاره این در همین سیستم جین مواد اساسی تشکیل نبات و جنگل در طبیعت است [که از روی همین مواد جنتیکی دوباره همان نبات از بین رفته، تکثیر شده می تواند].

جنبش: خاصیت های ارثی اینها؟

دکتور غنی: خاصیت های خاص دارد که موجب نجات شده می تواند. از این جهت بدخشان نه تنها انگور خود رو دارد، سیب خود رو دارد، ناک خودرو دارد، انواع مختلف است. همچنین در نورستان و کنر واین جاها، تمام این نقاط افغانستان را که ببینید و تیر بند ترکستان همین رقم مواد را دارد. نقاط دیگر کوه‌های بابا، تمام کوه‌های ما ضرورت به

یک بررسی اساسی دارد مثلی که دشت ها و اینهای ما دارد. چون نباتاتی که به صورت خود رو [سبز می شدند] ریگ را نگه میکرد و زمین را استحکام میداد و یا نباتاتی که نمک را [نگه می کرد]، فرضاً به طور مثال در دشتهای هرات یک بته خاص است که نمکین است، و گوسفندی که سر آن [تغذیه] میشود یک لذت خاص دارد که در عربستان سعودی از همه کرده ارزش زیادتر داشت. از همین خاطر بود که در دوران داود خان مرحوم - حکومت عربستان یک سرمایه‌گذاری بزرگ را می خواست سر مسلخ هرات انجام بدهد.

قصه ییرا که شما از الفت صاحب کردید یا من از تاجر گلکنده کردم، [مشکل این است که] ما همیشه به طرف بیرون یا کمک بیرونی می خواهیم ببینیم عوض این که گنج هایی را که زیر پای ما است یا پیش روی ما است، به دیده ارزش ببینیم. با انکشاف این، ما خود سر پای ایستاده شده می توانیم و با دنیا نوع مناسبات ما تغییر می کند. واقعاً برنامه ییرا که ما و شما سرش صحبت کردیم اگر به صورت اساسی انسجام پیدا کند ۱۰ تا ۱۵ میلیارد دالر در سال صادرات در حدود امکان است.

جنبش: زه د سروېگانو پوښتنه په دې کوم چې بې سروې نه کېږي، نه پوهېږم چې دا به وي که نه؟ ځینې بوټي دي، ځینې محصولات دي، ځینې لرګي دي چې په نړیوالو بازارونو کې خورا ډېر قیمتي دي په لرې ختیځ کې، په امریکا او دغو ځایونو کې، داسې سروې به نه وي شوې که دغه ونې افغانستان کې د نمو قابلیت ولري چې سړی دا تعمیم کړي او په عین حال کې اقتصادي ګټه واخلي؟

دکتور غني: لومړی ځېږنې زما په غوښتنې باندې شوې وې، اما لکه چې مخکې تاسې وویل یوازې دا نه ده چې لومړی سروې وشي، له سروې نه تر عملي کولو پورې [ډېر کار دی]. باندنیو خلکو باندې تاسې سروې کولای شئ، اما پروګرامونه وربانديې نه شئ عملي کولای. دا بې له دې چې افغان ظرفیت په کار واچوئ او اول هغه نتیجې ته ورسېږي، [بل رقم نه کېږي]. دا یوازې تخنیکي پوهه نه غواړي، ولسي پوهه هم غواړي. بې له دې چې ولسونو سره مشترکه ژبه پیدا کړئ، نه کرهڼه کې بدلون راوستی شئ، نه ځنګلونو کې بدلون راوستی شئ، نه معادن کې او نه نورو برخو کې. [د] بازاریابۍ برخه کې منسجمې سروېګانې شته او کېدای شي، اما څوک یې وکړي؟ جلغوزیو باندې ما لسګونه مجلسه ونیول، ځکه هر وارې به یو خنډ و. تاسې لیدلي هغه پخواني میرزا قلم یې چې ورته ویل چې یو چېرې څنګه خنډ پیدا کړي. [یو خنډ] په زنځیر د ارزښت کې ټول زنځیر ته زیان رسوي او دا توجه غواړي. له بده مرغه دغه ظرفیت چې په ودې کې و اوس ډېر سخت کمزوری شوی.

که یو کار کوئ او غواړئ خلکو ته ژوند ورکړئ نه تدریجي مرګ، نو دا تخنیکي پوهه غواړي او دا باید ولسي پوهې سره یوځای شي چې نتیجې ته ورسېږي. دا بې له دې چې د اوسنیو معلوماتو له لارې او بیا د عملي کولو له لارې نتیجې ته ونه رسېږو، بل ډول نه شي کېدای.

د برنامې جوړول یو خاص ظرفیت غواړي او تطبیق یې [هم]. [دا] باید لکه خیاط غوندې وي. که خیاط زما یا ستاسې یا د بل افغان انسان ورور یا خور اندام نظر کې ونه نیسي څنګه به یې [کالي] جوړوي؟ هغه کالي چې تیار راځي ځینې ښېګنې لري اما [ستونزه] یې دا ده چې ستاسې په جسم باندې [برابر] نه وي. د برنامې جوړول هم همدغسې [دي]. ان‌شاءالله تعالی راتلونکي کې به دې باندې په تفصیل وغږېږو چې د برنامې جوړول او د برنامې تطبیقول څه رقم ظرفیتونه غواړي او څنګه پانګونه باید پرې وشي. بې له بشري پانګې دا طبیعي پانګې خوندي کېدای نه شي او ودې ته نه رسېږي.

جنبش: ابتکارات جهانی از جمله کنفرانس‌های کاپ (COP) که یکی از اینها در این  اواخر در امارات متحده عربی دایر شده، صورت می گیرد از جمله کمک به کشورهایی که در نتیجه تغییر اقلیم صدمات زیاد دیده اند. شبیه به این یک صندوق، یک پروگرام، یک ابتکاری در مورد احیای جنگلات وجود دارد؟ چون این هم بر تغییر اقلیم تاثیر دارد.

دکتور غني: جنگلات یک موضوع مهم بوده، اما زیادترین توجه در این بخش بالای برازیل است، بالای اندونیزیا است، بالای روسیه است. ممالکی که زیادترین تاثیرات [بر تغییر اقلیم] را دارند و قطع جنگلات شان نتایج بسیار وخیم دارد. اما منابع یک منبع نیست، صندوق‌های مختلف وجود دارد. یکی از مهم‌ترین منابع آن چیزی است که به نام تجارت کاربن یاد میشود. تجارت کاربن این است، چون مقدار کاربنی را که به هوا انتقال داده میشود و موجب گرم شدن هوا است و تاثیرات آن واضح است، دنیایی است. بنابرین شرکت‌های بزرگ، کوچک [و] متوسط همه در بخش سکتور خصوصی [و] کشورها ییکه زیادترین سهم را در ایجاد و رهایی کاربن به محیط زیست و اینها دارند، حاضر به کمک استند به کشورهایی که مقدار را پایین آورده می تواند. کوستاریکا به طور مثال پیشتر خدمت تان ذکر کردم چند دهه است که تمام احیای جنگلاتش از طرف شرکت های خصوصی تمویل شده [است]. اما این برنامه‌های منسجم می خواهد. بدون مشروعیت ملی و بین‌المللی این رقم برنامه‌ها عملی شده نمی تواند.

جنبش: از همین خاطر کشور ما در کنفرانس‌های کاپ سکاتلند، در مصر و حالا در امارات متحده عربی نماینده‌گی نداشت و شاید از کمک هایی که صورت بگیرد محروم شود.

دکتور غني: اینها محروم نیستند خود را محروم کرده اند. این نکته را باید به صورت واضح از نگاه مسوولیت بدانیم. اداره طالبان خود را محروم کرده. چون با شیوه ییکه اینها رفتار می کنند، نه مشروعیت ملی را کمایی کردند، نه مشروعیت منطقوی را، نه مشروعیت بین‌المللی را. و بدون این سه بعد مشروعیت این اقدامات بزرگ صورت گرفته نمی تواند. با انحصاری که اینها به وجود آورده، و طریقه اقتصاد جرمی و شبکه‌یی که ترجیح داده اند این رقم اقدامات صورت گرفته نمی تواند. در قدم اول نقش منفی خود را در قسمت از بین بردن جنگلات و همچنین معادن افغانستان و زیربنای افغانستان باید قبول کنند. در قسمت دوم یک نقشه راه واضح باید ایجاد شود که باید بفهمند که این کار

در توان شان نیست. در شریعت نکته اول محافظت حقوق مردم است و مصئون ساختن شان است. اگر عقل را بندی می کنید این کارهای بزرگ را چطور انجام میدهید؟ آیا این خودخواهی است یا این خدمت است؟ مسئولیت متوجه جامعه جهانی نیست، مسئولیت در قدم اول متوجه کسانی است که انحصار مطلق می خواهند. او دلته باید ټول پوه شوو که انحصار غواړئ، نو باید نور ابعاد یې ومنئ.

جنبش: استاده، د دې خپرونې وروستیو ته هم را نژدې کېږو، یو دوه مسئلې مهمې پاتې دي که په دې باندې هم وغږېدلی شوو. یو دا چې ځنګل چې له منځه ځي یوازې ونه نه ده چې له منځه ځي، یوازې طبیعت نه دی چې خرابېږي، یوازې ښکلا نه ضایع کېږي، دغلته یو سیستم موجود دی د الوتونکو، د څرېدونکو د ښکېدونکو مثلاً، د وحشي ژویو د دوی، دغه ټول ورسره ړنګېږي او له منځه ځي او دا پخپله یو مهم شی دی. موږ بیا هم معلومات لرو چې د ځنګلونو په له منځه تګ سره موږ په دغه برخه کې څومره شیان له لاسه ورکړي؟

دکتور غني: زښت ډېر شیان مو لاسه ورکړل. په ابتدایي توګه جنبش صاحب په یاد ولرئ [کله] چې تاسې ځوان وئ دا مرغان چې په افغانستان باندې تېرېدل، څومره ګڼ وو؟

جنبش: لښکرې به تېرېدلې.

دکتور غني: لښکرې به تېرېدې. (آب ایستاده) کې فلامینګوګانې مو درلودې، د نړۍ له عجایبو نه وو. ما [د] سروبي او ماهیپر منځ کې پړانګ په خپلو سترګو لیدلی چې په دې غرونو کې ګرځېده. هوسی، غرڅې، دا نورو ټولو ابعادو ته وګورئ. دا ټول خطر کې دي. هغه مرغان چې په شمال د افغانستان کې وو. بیا هم که غواړئ یو شی وګورئ د افغانستان د سرحداتو ټاکل چې د انګریزانو د هیئتونو له [خوا] شوي، دوی خپل خاطرات لیکلي دي. دوه ټوکه یو سړي د اییخ په نامه لیکلي دي او بل هولدیچ په نامه باندې. د ځنګلو، د ځر[ځایونو]، د ورشوګانو او د ټولو ځناورانو وضعیت دا ټول په خطر کې دي. سلطان مسعود [په دې] مشهور و چې زمري یې مات کړي وو. دا ټول ځایونه [او حیوانات] چېرې وو، خو دا ټول په دې [سیمو] کې وو. شهنامه ما بیا لوستله سر تر پایه. کومه برخه دشهنامې نه ده چې کابل، زابل یا سمنګان یا بلخ [زرغون] نه وي. زر کالو کې څومره بدلون راغی؟ دغه ټول په دې پورې تړلي دي چې طبیعت له آسمان نه نیولې تر ځمکې پورې یو دی، منځ کې چې څه خدای جل شانه پیدا کړي دي، یو بل پورې تړلي دي. انسان په دې رقم رفتار نه شي کولای چې ټول شیان له منځه یوسي او بیا فکر وکړي چې پخپله پاتې کېږي. انسان د طبیعت یوه برخه ده. کاینات سره ټول تړلي دي. دلته ده چې موږ باید یو لید هم د اسلامي عقیدې له نظره او هم د اوسني علم له نظره چې مطلق سره تړلي دي، ولرو او په دې باندې راشو چې یوازې نه یوو او په ګډه ژوند کوو. نو اوس هغه خاص پړانګ چې په بدخشان کې لرو، په واخان کې چې یوازې په واورې کې ښکارېږي، تر دا د هوبارې چې میش مرغ ورته په هرات کې وایي، چې خاصتاً د خلیج خلک یې په ښکار [لګیا وي] ... دې ښکار باندې ما

بندیزونه [ولګول]، ما پرې نه ښودل چې ښکار [وشي]. اوس لومړی قانون یې چې تېر کړی دی د ښکار قانون دی. ولې؟ هلته هماغه خلک ناست وو او په یو وار یې له یوه ملک نه دوه سوه ښکاریان راوستي وو، ما له هوایي اډې بېرته ولېږل. ټول د هرات او فراه پولیس او نور یې ورته راټول کړي وو چې د دوی محافظین و اوسي. دا رقم رفتار له خپل چاپېریال سره لوی ظلم او لوی زیان دی چې ولس او ځان باندې یې راوړئ. دا دا[سې] ده چې یوه پښه مو پرې کړئ یوه ورځ، بله پښه مو پرې کړئ بله ورځ، او بیا وایئ چې ولې مې پښې نشته.

جنبش: تاسې د زنځیر اصطلاح استعمال کړه ډېره معقوله یعنې په دې ساینسې هغو کې ایکو سیسټم ورته وایي کنه چې دغه حشرات او انسان په یوه مجموعه کې ژوند کوي، یو زنځیر غوندې دی، که یو یې له منځه ځي دغه سیسټم ړنګېږي یعنې داسې نه ده که یوه حشره، یو الوتونکی یو څرېدونکی وژل کېږي یا یې نسل له منځه ځي عیب نه لري، هغه بېرته راځي په انسان او د هغه په ټولنه باندې تاثیر کوي، نو په همدې حساب غواړم پوښتنه وکړم چې آیا کله چې د ځنګلونو په بیا احیا باندې غږېږو د دې د ایکو سیسټم په بیا احیا باندې هم غږېدلی شوو؟ یعنې دا طرحې هم په نظر کې وې که نه؟ یا باید وي که نه؟

دکتور غني: معلومدار دا اساسي برخه ده. سلما [بند] ته وګورئ. زه چې د پرانیستلو لپاره یې لاړم، پوهېږئ څه مې ولیدل؟ یو ډول مرغاوی ده چې ډېره خاصه ده، هلته مېشته شول، قو ورته وایوو. دا پَرِ قو چې یې ورته ویلې چې بالښتو کې به یې اچول، د پاچایانو په کیسو چې راغلي وایي بالښت یې پَرِ قو نه جوړ و – تنها په استرالیا کې تور قو پیدا کېږي. همدغه راز کمال خان مو چې پرانیسته مرغاوی بېرته راغلې وې، او ما وویل مهاجر مرغان بېرته راغلل اوس به ان‌شاءالله تعالی مهاجر انسانان هم بېرته راشي.

جنبش: غواړئ وواياست چې که ځنګل احیا شو، دغه سیسټم بېرته خپله احیا کېږي؟

دکتور غني: ژوندی کېدای شي مګر یوه برخه یې په طبیعي توګه راځي، اما بله برخه یې بیا هم په پوهې پورې تړلې ده. هغه نور موجودات چې پاتې دي په باقي چاپېریال او نورو ولسوالیو یا ولایاتو کې هغه ځنګه سره تړل کېدای شي؟ یا دا چې بیا هم احتیاط په کار دی چې له خارج نه واردات ونه کړئ ځکه د دې نتایج [ښه نه دي]. زه یو مثال درکوم، له هوایي نه یوه ماشوم یوه حشره [له ځان سره] امریکې ته [راوړه]، داسې خپره شوه چې شل ولایتو د امریکې ملیاردها ډالر ورباندې لګولي چې بېرته یې له منځه یوسي. نو دقت په کار دی.

څه چې د میاواکي له طریقې، د ناکامورا له تجربې او د نورو له تجربو لیدلی شوو، [هغه دا دي] چې کله ځنګل منځ ته راشي او په خاصه چې په بوټو او [نورو ګډه] پانګونه وشي او ودې ته یې توجه وشي، چاپېریال بدلېږي. مثلاً هغه د ننګرهار کانال مو لیدلی، مخکې د ننګرهار له کاناله جلال آباد کوچنی او وچ ځای و. د ننګرهار کانال د جلال آباد موسم یې بدل کړ.

جنبش: هوا بېخي بدله شوې ده.

دکتور غني: نو امکان د دې په عملي توگه شته، باید توجه وکړو چې څنگه کېږي. شپږو ښارونو لپاره ما مطلق ټول پلانونه چې تطبیق لپاره تیار دي، برابر کړي وو.

جنبش: زما پوښتنې همدومره وې، که تاسې د دغې مهمې مسئلې په باره کې نور څه ویل نه لرئ نو فکر کوم چې د خپرونې وروستیو شېبو ته نژدې شوي یوو.

دکتور غني: زه مننه کوم. خبره مو بیا هم په همدې کې ده چې زموږ ټولو طبیعي پانگو ته [باید] په [ یو نظر ] او د یوه نظام په حیث وکتل شي چې انسان او چاپېریال سره تړلي دي او هر اقدام چې موږ کوو نتایج لري. یوه برخه چې ډېره ضروري ده، ځکه که غواړو چې د ځنگلو او بوټو د له منځه وړلو مخنیوی وکړو، باید لمریزې انرژۍ ته ډېره خاصه توجه وکړو. اوس داسې دېگونه او نور آلات موجود دي چې لمریزې انرژۍ نه [ترې] گټه اخیستل کېدلای شي. د دې ضرورت چې خلک لرگي وسوځوي یا بوټي وسوځوي او هغه له بېخ نه وباسي، د هغه مخنیوی ورسره کېږي.

داسې نه [کېږي] چې یوازې د نصیحت [په بڼه یې] خلکو ته ووایو، باید د ژوند بدیل برابر کړو او دا بېرته [دې] ته راځي [چې] آیا ژوند منو او راتلونکي ژوند خوا ته ځوو؟ یا دا چې غوړونه مو کېنوو، سترگې پټوو او وایو، هر شی خوندي دی، هېڅ خبره نه ده، پرېږدئ چې هر څه په ولس باندې راځي.

ټول مسئول یوو او مسئولیت دا دی چې ملي گټو باندې باید په واقعي توگه فکر وشي، هیله ده زموږ او ستاسو دا خبرې د دې زمینه برابره کړې وي چې خلک په دې برخه کې وگوري چې څومره د ژوند امکانات په کې شته. په گډه او په اتحاد او اتفاق او پوهې باندې او تخنیکي پوهه له ولسي پوهې سره څنگه گډولای شوو، چې خپل ژوند انشاءالله تعالی نسلونو لپاره خوندي کړو نه دا چې د تېرو نسلونو غوندې لا بیا زیانمن یې کړو.

جنبش: ډېره مننه، بسیار تشکر رئیس جمهور محمد اشرف غنی، این مسایل واقعاً هم مهم است و هم صحبت در این مورد جالب و ارزشمند از این لحاظ وقت این برنامه به پایان رسید اما همانطور یکه شنوندهها شاید آگاهی داشته باشند این سلسله ادامه میکند، و در برنامه های آینده یکی از موضوعات مهم دیگر را انتخاب خواهیم کرد. بسیار تشکر از وقت تان. ډېره مننه.

دکتور غنی: تشکر از جناب شما، تشکر از تمام هموطنان ما، خواهران ما، برادران ما، جوانان ما، همه.

زنده باد افغانستان، تل دې وي افغانستان، یشه سن افغانستان.

###